# په جنازه کې بیړه وکړئ، ځکه که مړی صالح وي، نو غوره انسان دی چې تاسو يې لېږئ؛ او که له دې پرته بل ډول وي، نو يو بد بار دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: " په جنازه کې بیړه وکړئ، ځکه که مړی صالح وي، نو غوره انسان دی چې تاسو يې لېږئ؛ او که له دې پرته بل ډول وي، نو يو بد بار دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی چې جنازه دې ژر تر ژره چمتو شي، د جنازې لمونځ دې پرې وشي او مړی دې ژر ښخ شي، ځکه که مړی نېک انسان وي نو دی غوره انسان دی چې تاسو يې د قبر نعمتونو ته وړاندې کوئ او که له دې پرته بل څه وي، نو شر دی چې له خپلو اوږو يې کوزوئ.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3109

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee